# جریده میزان

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۲۸ لړم ۱۴۰۱ هـ ش | ۲۴ ربیع الثانی ۱۴۴۴ هـ ق | ۱۹ نومبر ۲۰۲۲ م | مسلسله شمېره (۲۱)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.

تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## سفر هیئت تفتیش قضائی غرض بررسی اجراآت عادی به ولایت فاریاب

هیئت مؤظف تفتیش قضائی به تاریخ ۱٤٤٤/۲/۲۵ به اساس هدایت مقام عالی ستره محکمه، از طرف مفتی محمد ابراهیم جان (ابوالحافظ) رئیس عمومی تفتیش قضائی، تحت سرپرستی مولوی عبدالولی (محمود) معاون ریاست عمومی تفتیش قضائی به اشتراک مفتیشن قضائی هریک مولوی عبدالبصیر(غزنوی)، مولوی جمعه گل(منصف) و مولوی عبدالرحمن (مخدوم ) عازم ولایت فاریاب گردیده اجراآت عادی قضائی و اداری دیوان‌های استینافی، دیوان های محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های آن ولایت بررسی و تفتیشی نموده‌اند.

هیئت مؤظف به ملاحظه و مشاهده سوابق دست داشته از آنعده منسوبین قضائی و اداری که اجراآت شان با در نظرداشت اصول، مقررات، متحدالمآل‌های مقام شورای عالی ستره محکمه و لایحه ریاست عمومی تفتیش قضائی انجام داده‌اند؛ قدردانی نموده و از آنعده منسوبین قضائی و اداری که درآجراآت شان خلاء بعضی نواقصات به نظر رسید، از طرف هیئت مؤظف رهنمائی گردید تا در آینده از تکرار همچون اجراآت خوداری کرده و با در نظرداشت اصول و مقررات اجراآت شان را عیار سازند.

علاوتاً هیئت مؤظف تفتیش قضائی از محبس ولایت فاریاب نظارت به عمل آورده، تشخیص نمود که به چه تعداد محبوسین مردانه، زنانه و اطفال در محبس آن ولایت موجود می‌باشند و شکایات زندانیان را بغرض رسیده‌گی به موقع به ریاست محکمه مرافعه و ریاست محکمه ابتدائیه شهری شریک ساخت.




## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۱**

**نېټه: ۱۴۴۴/۴/۱۸ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد:د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د هدايت په اساس، د تيرې اداري نهائي او قطعي غير تطبيق شده فيصلو د بيا څېړلو په موخه په هر ولايت کي قضائي هيئت تاکل شوی چي د ياد هيئت لپاره کاري طرزالعمل د مشرتابه محترم عالي مقام تر تائيد وروسته د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر(۱۳) مورخ۱۴۴۴/۲/۲هـ ق مل ټولو محکمو ته استول شوی دی چي د ياد طرزالعمل په دوهمه ماده کي يواځي د تيرې ادارې نهائي او قطعي غير تطبيق شده فيصلو د بيا څېړلو يادونه شوی ده.

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا د سترې محکمې محترم مقام ته شفاهي هدايت شوی تر څو د اسلامي امارت په محاکمو کي د تيري اداري څخه د پاته دوسيو په باره کي لاندي ترتيب په نظر کي ونيول شي:

((د تيرې ادارې هغه دوسيې چي يوازي ابتدائيه يې شوې وي، يا يې ابتدائيه او مرافعه دواړه شوي وي، يا هم ابتدائيه، مرافعه او تميز درى سره شوي وي ليکن تطبيق شوي نه وي او محکوم عليه د تجديد نظر غوښتنه وکړي، يا محکوم له تطبيق وغواړي، په دې ټولو صورتونو کي دې دوسيه د يوه جانب د مراجعې په صورت کي د پورته ذکر شوي طرزالعمل د دولسمي مادې مطابق په هر ولايت کي د استيناف محکمې د لاري و ياد هيئت قضائي ته واستول شي.

په هر ولايت کي ټاکل شوی قضائي هيئت دې د پورته ذکر شوي کاري طرزالعمل مطابق يادې دوسيې تر څېړنې لاندي ونيسي، که د تيري اداري د محاکمو فيصله پر شرعي اصولو برابره وه، تائيد دې کړي او که په شرعي اصولو برابره نه وه، نقض دې کړي تر نقض وروسته دې د قضيې جانبين راوغواړي او د هغو په حضورکي دې د شرعي اصولو موافق خپله نهائي فيصله صادره کړي او د تطبيق لپاره دې مربوطه مرجع ته واستوي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته تحرير شوي هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

يادونه: هغه مکتوبونه او متحدالمآلونه چي د دې متحدالمآل څخه مخکې صادر شوي او د دې متحدالمآل سره په ټکر کي واقع وي هغه لغوه دي قابل عمل نه دي.

### اسلامي حکومت

**دريمه برخه:**

۵ــ د پياوړي پوځ درلودل: اسلامي حکومت بايد داسې پياوړی پوځ ولري، چې دښمنان د ليرې ور څخه وويرېږي او د دښمنانو مقابله وکړای شي، الله تعالی په خپل سپېڅلي کلام د سورة الانفال په ۶۰ نمبر آيت شريف کې فرمايي:

ژباړه: او تاسې د هغوی د مقابلې لپاره تر خپل وس ډېر زيات طاقت او تيارزين کړي آسونه برابر کړئ، تر څو چې په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ، چې تاسې يې نه پېژنئ خو الله يې پېژني. د الله په لاره کښې چې تاسې هر څه ولګوئ، د هغو پوره او بشپړ مکافات به ستاسې لورې ته راوګرځول شي او ستاسې سره به هيڅکله ظلم ونه شي.

او دا پياوړی اسلامي پوځ به هېواد ته سوکالي او امن راولي، د هېواد د خپلواکۍ او حاکميت ساتنه به کوي او همدارنګه به د هېواد دننه او بهر کې د ديني شعائرو دفاع به کوي.

الله تعالی د سورة البقرې ۱۹۳ نمبر آيت شريف کې فرمايي:

ژباړه: او تاسې له هغو سره وجنګېږئ تر دې پورې چې فتنه پاتې نه شي او دين ټول د الله لپاره شي، بيا که هغوی لاس پر سر کول، نو وپوهېږئ چې له ظالمانو پرته د بل چا په ضد لاس غځول روا نه دي.

اخذليک: تتمة النظام، ۱۴ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## هلمند ولایت کې د درېیو ولایتونو قضاتو ته د ظرفیت لوړونې سیمینار پای ته ورسېد

هلمند ولایت کې د ستړې محکمې لخوا د درېیو ولایتونو (هلمند، فراه او نیمروز) د محاکمو اړوند قضاتو ته د ظرفیت لوړونې ۱۰ ورځنی جوړشوی قضائي سیمینار پای ته ورسېد.

په یاد سیمینار کې چې په ۱۴۴۴/۴/۱۰ هـ ق نېټه جوړ شوی و د هلمند، فراه او نیمروز ولایتونو شاوخوا ۱۸۲ قضاتو ته د محاکمو د اصولو د تطبیق، قضاتو د ظرفیت لوړونې، عدالت او حدودو د جاري کولو او نورو مهمو قضائي موضوعاتو په تړاو هر اړخیزه روزنه ورکړل شوه.

د دغه قضائي سیمینار په پای غونډه کې د ستړې محکمې قضائي مرستیال او د جنوب غرب زون تمیز رئیس شیخ مولوي سردارمحمد صاحب، د هلمند د استیناف رئیس محترم ابوسعید الغزنوي، د قضائي تعلیماتو رئیس قاضي شیخ مولوي عبدالصادق صاحب، د هلمند مرستیال والي محترم عبدالرحمن کندوزي صاحب او نورو مسؤولینو ګډون درلود.

یادې پای غونډې ته د ستړې محکمې قضائي معاون او د جنوب غرب زون تمیز رئیس د قضاء په اړه تر هر اړخیزه وینا وروسته وویل، دلته د ۱۰ ورځو په جریان کې د درېیو ولایتونو قضاتو ته د معیاري او اصولي فیصلو کولو، د عدالت د تامین او د ظلم او فساد د مخنیوي برخو کې روزنه ورکړل شوه.

وروسته د قضائي تعلیماتو رئیس او د سیمینار یو تن استاد وویل، په فیصلو کې به جرئت کوو، د قرآن او شریعت مطابق به خپلې فیصلې کوو، هڅه باید وشي چې د مسلمانانو حقونه تلف نه شي.

د یاد سیمینار د ګډونوالو له ډلې د فراه ولایت د استیناف محکمې رئیس مولوي محمدګل صیاد د نورو ګډونوالو په استازیتوب خپلو خبرو کې د دغه ډول سیمینارونو جوړول خورا ګټور وبلل او وویل، په تېرو درېیو میاشتو کې دا څلورم ځل دی چې د جنوب غرب زون تمیز ریاست لخوا قضاتو ته دغه ډول ګټور سیمینار جوړېږي.

نوموړي وویل، دلته دوی ته حقوقي او جزائي اصول ورښودل شوي چې دوی یې تطبیق او عملي کېدو ته پوره ژمن دي.

یاده غونډه د نورو مسؤولینو تر خبرو وروسته د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## جلسهٔ هماهنگی عدلی و قضائی ریاست عمومی محکمهٔ استیناف ولایت دایکندی برگزار گردید

روز یک شنبه مورخ ۱۴۴۴/۴/۵ جلسهٔ هماهنگی عدلی و قضائی تحت ریاست محترم الحاج شیخ الحدیث مولوی عبدالکریم»محمدی« رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت دایکندی با اشتراک محترم سردار محمد حاجی راشد معاون مقام ولایت، الحاج شیخ الحدیث مولوی سید محمد (حقانی) رئیس دیوان جزاء محکمهٔ مرافعه ولایت دایکندی، مولوی محمد نسیم مبرور رئیس دیوان مدنی و حقوق عامهٔ محکمهٔ مرافعه، مولوی رحمت الله (رحمانی) رئیس دیوان امنیت عامهٔ محکمه مرافعه، مولوی عبدالشکور (شاکری) عضو محرر آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن محکمهٔ مرافعه، مولوی مفتی محمد رحیم (محمود) رئیس محکمه ابتدائیه شهری، مولوی عبدالمالک (حقانی) رئیس دیوان جزاء محکمهٔ ابتدائیه شهری، مفتی عبدالهادی (هادی) رئیس دیوان مدنی و حقوق عامهٔ محکمه ابتدائیه شهری، مولوی عصمت الله (حقدوست) سرپرست څارنوالی استیناف، مولوی گل محمد سرپرست ریاست عدلیه، حسین (رضوانی) سرپرست ریاست زراعت آبیاری و مالداری، حیات الله (جویا) مدیر عمومی تطبیق قانون مستوفیت ولایت دایکندی، محمد باقر (بشرمل) نمایندهٔ شاروالی شهر نیلی، داکتر ملا محمد قاسم (انقیاد) رئیس صحت عامه، قاری مولوی شیرمحمد رئیس څارنوالی عسکری، تاج محمد (صمیم) نمایندهٔ قوماندانی امنیه، مولوی ولی جان مدیر محبس تدویر یافت.

در ابتداء جلسه آیات چندی از کلام الله مجید توسط محترم قاری حمدالله (کوثری) عضو محرر دیوان مدنی شهری ولایت دایکندی تلاوت گردید.

سپس الحاج شیخ الحدیث مولوی عبدالکریم «محمدی» رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت دایکندی اشتراک معاون صاحب ولایت و مشترکین جلسهٔ هماهنگی را خوش آمدید و خیر مقدم گفته سخنان‌اش را با آیه از قرآن کریم(( **اعدلوا هو اقرب للتقوی**)) شروع نمودگفت که در دین مقدس اسلام یکی از بنیادی ترین ارزشها، ارزش عدالت است.

موصوف برای تمام اشتراک کننده‌گان گفت که عدالت را باید سرلوحه امورات کاری خویش قرار دهند.

بعد از آن روی آجنداء جلسه به صورت کلی و همه جانبه بحث و گفتگو نمودگفت که ادارات عدلی، قضائی و امنیتی به مثابه زنجیره به هم پیوسته و با داشتن رسالت مشترک در راستای تأمین حاکمیت قانون، تحقق عدالت و مبارزه بهتر با جرایم در جامعه فعالیت می‌نمایند؛ بناءً جلسهٔ هماهنگی به منظور ایجاد هماهنگی بیشتر میان این ادارات در راه تحقق رسالت مذکور و غرض بهبود و حل چالش‌های کاری می‌توانند زمینهٔ بهتر را در جهت تحقق اهداف متذکره میسر سازد.

الحاج شیخ الحدیث مولوی عبدالکریم «محمدی» تدویر جلسات هماهنگی عدلی و قضائی را در حل مشکلات ارگان‌های عدلی و قضائی مفید دانسته و رهنمائی‌های سودمند و همه جانبه را راجع به تطبیق قوانین شرعی و تأمین عدالت که یکی از تقاضای مردم می باشند به مجلس ارشاد فرمودند.

هم‌چنان محترم الحاج شیخ الحدیث والتفسیر مولوی سید محمد (حقانی) رئیس دیوان جزاء محکمهٔ مرافعه ولایت دایکندی سخنانش را با آیهٔ دوم سورة المائده ((**وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان**)) شروع نمود گفت که مجاهدین چند سال جهاد نموده‌اند تا اینکه اکنون به قدرت رسیده‌اند.

موصوف از تمام اشتراک کننده‌گان جلسه خواست که کارهای شان را به رضای الله متعال انجام دهند و وظایف محوله خویش را به درستی انجام دهند.

در اخیر جلسه با دعائیه خیر خاتمه یافت.

## کندهار ولایت کې پنځو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

په ۱٤٤٤/۳/۲۹ هـ ق نېټه کندهار ولایت کې پنځو مجرمینو ته د مرافعې محکمې د دېوان جزاء لخوا تعزیري سزاوې ورکړل شوې.

د یادو مجرمینو له ډلې څخه یوه د کندهار ښار اړوند د نهمې حوزې په مربوطاتو کې دوې لیړی او یوقالب غلا کړی چې د محکمې لخوا په دغه جرم په اووه میاشتې قید او (۳۰) درو تعزیري سزا محکوم کړل شو او په ۱٤٤٤/۳/۲۹ هـ ق نېټه په عام محضر کې په درو ووهل شو.

دوهم مجرم د کندهار ښار په اوومه ناحیه کې له یو کور څخه (چې په یاد کور کې څوک نه وو) یوه بېټری، یوه شمسي هینداره او یو د کالو جوړولو ماشین غلا کړی وو.

یاد کس د مجاهدینو لخوا ونیول شو، ذکر شوي توکي یې بېرته خپل مالک ته وسپارل شول، مجرم محکمې ته حاضر کړل شو او د محکمې لخوا په (٦) میاشتې قید او (۳۰) درو تعزیري سزا محکوم کړل شو او په یاده نېټه په عام محضر کې مجازات شو.

درېیم مجرم د کندهار ښار په ۱۳ مه ناحیه کې له پردۍ نامحرمې ښځې سره روابط درلودل؛ ترڅو چې ویې تښتولې وه او خلوت یې ورسره کړی وو، بالاخره د استخباراتو لخوا کشف او ونیول شو او محکمې ته حاضر شو. د محکمې لخوا په شپږ میاشتې قید او ۳۹ درو تعزیري سزا محکوم کړل شو او په یاده نېټه په عام محضر کې مجازات شو.

څلورم مجرم چې د کندهار ښار د څلورمې حوزې په مربوطاتو کې یې د یوه دوکان له مخې څخه موټرسایکل غلا کړی و او د مجاهدینو لخوا ونیول شو، نومړی مجاهدینو محکمې ته حاضر کړ د محکمې لخوا په یو کال قید او (۳۹) درو تعزیري سزا محکوم کړل شو او په همدې نېټه په عام محضر کې مجازات شو.

پنځم مجرم چې د کندهار ښار د دریمې حوزې په مربوطاتو کې یې یو موټر سایکل غلا کړی و او د مجاهدینو لخوا نیول شوی و، غلا شوی موټرسایکل مجاهدینو خپل مالک ته سپارلی و او یاد مجرم یې محکمې ته حاضر کړ، نو د محکمې لخوا په (۷) میاشتې قید او (۳۹) درو تعزیري سزا محکوم کړل شو اوپه یاده نېټه په عام محضر کې مجازت شو.

## در محکمهٔ ابتدائیه شهری فیض آباد نشست اداری تدویر یافت

به تاریخ ۸ ربیع الثانی سال ١٤٤٤ هجری قمری تحت ریاست مولوی عبدالجمیل (سائس) رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری فیض آباد با اشتراک پرسونل قضائی و اداری نشست اداری این محکمه دایر گردید.

جلسه با تلاوت چندی از آیاتی کلام الله مجید آغاز شد؛ متعاقباً رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری اجندای جلسه و هدف از تدویر جلسه را به همه پرسونل قضائی و اداری بیان کرد.

رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری روی بعضی از کارهای قضائی و اداری تأکید ورزید که باید کارها بطور مسؤولانه و صادقانه طبق احکام شریعت اسلامی و اصولنامهٔ اداری محاکم امارت اسلامی افغانستان به وجه احسن انجام شود؛ تا از تأخیر بی مورد در دوسیه‌جات جزائی و حقوقی جلوگیری به عمل آمده؛ و مردم از فعالیت محاکم رضایت کامل داشته باشند.

مولوی عبدالجمیل (سائس) رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری فیض آباد افزود، رعایت نمودن اوقات رسمی و رژیم کاری برای همه قضات و کارمندان اداری بدون کدام استثناء واجب است؛ اما در صورت ضرورت اجازهٔ رئیس مربوطه در زمینه حتمی می‌باشد.

موصوف در ارتباط به دوسیه‌های جزائی که مدعی علیه دارند؛ ولی مدعی علیه آنها در محبس قرار دارند گفت که دوسیه‌های آنها باید در اولویت کاری قرار داده شود تا سرنوشت مدعی علیه مشخص گردد.

رئیس محکمهٔ ابتدائیه همچنان گفت که دیوان مدنی از جمله پرکارترین دیوان‌ها در سطح این ریاست می‌باشد، در مورد سعی و تلاش صورت گیرد که به مشکلات مردم بدون درج شکایت قضایای حقوقی به طریقه نوبتوار مورد رسیده گی اصولی قرار گیرد.

موصوف تأکید کرد که مفتی صاحبان کوشش نمایند که بررسی مقدماتی دوسیه‌ها را طبق جدول ترتیب داده شده به اسرع وقت انجام داده غرض فیصله شرعی به رئیس مربوطه تقدیم بدارند، قضات محترم وکارمندان اداری تا حد توان سعی نمایند که با مراجعین از رویه نیک و اخلاق احسن استفاده کند؛ تا باعث بد نامی محاکم نگردد.

رئیس محکمهٔ مذکور گفت که در مورد اجراآت فیصله جات جزائی و حقوقی توجه جدی صورت گیرد تا باشد فیصله‌ها خویش را طبق اصولنامه اداری محاکم عیار سازیم.

در پایان جلسه پرسونل قضائی و اداری محکمهٔ ابتدائیه شهری فیض آباد از رهنمایئ عالمانه و مدبرانه رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری اظهار سپاس و قدردانی نموده‌اند.

## د پکتیا ولایت د استیناف محکمه کې اداري ناسته ترسره شوه

د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې په ریاست مقام کې د دې محکمې د رئیس الحاج مفتي عبیدالله خالد په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې د مرافعه محکمې د دیوانونو قضائي غړو، د پکتیا ولایت ښاري ابتدائیه محکمې رئیس او قضائي غړو او د مرافعه محکمې د ثبت اسناد و ثایق او مخزن آمر او قضائي غړو ګډون درلود.

غونډه د مولوي صمیم الله (انس) لخوا د قرانکریم په مبارکو آیاتونو پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې رئیس خبرې وکړې، د غونډې ټولو ګډونوالو ته یې ښه راغلاست ووایه.

نوموړي په خپلو خبرو کې وویل، خپلې ورځنۍ قضائي چارې په اخلاص او صداقت ترسره کړئ، له کبر او غرور څخه ځانونه وساتئ او د سترې محکمې عالي مقام د هدایت سره سم د خپلو مشرانو په اطاعت سره خپلو چارو ته په خپل وخت رسېدنه وکړئ.

مفتي خالد وویل، له خلکو او ولسونو سره نېکه رویه وکړئ، هره دوسیه چې نوې محکمې دېوان ته واردیږي په دقیق ډول یې وګورئ، که چېرې ستاسو محکمې دېوان پورې اړه درلوده د دوه ورځو په موده کې یې اړوند مرجع ته مکتوبا مسترد کړئ؛ ترڅو خلک له ستونزو سره لاس او ګرېوان نه شي.

د محبوسینو په اړه یې ټینګار وکړ چې په اونۍ کې یوځل له محبوسینو نه لیدنه وکړئ او د محبوسینو شته ستونزو ته رسېدنه وکړئ.

دغه راز د توقیف خانو او نظارت خونو په اړه یې قضاتو ته سپارښتنې وکړې چې د توقیف خانو او نظارت خانو څارنه وکړئ چې بېګناه ولس تهدید او تر بند لاندې نه وي او په پای کې د محاکمو د اسرار په اړه وغږېده او زیاته یې کړه چې محاکمو ته بېلا بېل موضوعات محول کېږي باید په ټولنه کې د خلکو او ولسونو راز افشا نه شي او پټ پاتې شي.

په پای کې د قضاتو په استازیتوب د پکتیا ولایت ښاري ابتدائیه محکمې رئیس مولوي کلیم الله (قانت حقاني) خبرې وکړې او د قضاتو په استازیتوب یې د مرافعه محکمې له رئیس نه مننه وکړه او خوښي یې وښوده.

ناسته د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## دکونړ ولایت مرافعه محکمه کې اداري ناسته ترسره شوه

د سه شنبې په ورځ چې د۱۴۴۴/۴/۶ـ هـ ق نېټې سره سمون خوري د کونړ د مرافعه محکمې د رئیس محترم مولوي عزیزالرحمن «حقاني» په مشرۍ د یاد ولایت د محاکمو د مسؤلینو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه.

یاده ناسته چې د مرافعه محکمې ریاست د دیوانونو رئیس صاحبانو، د شهري محکمې د دیوانونو رئیس صاحبانو او د ابتدائیه محاکمو رئیس صاحبانو په کې ګډون درلود د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

د ناستې په پیل کې د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عزیز الرحمن «حقاني» قضاتو ته وینا وکړه او هغوی یې د حاضرۍ په پابندۍ، له مراجعینو سره په ښه سلوک مکلف وبلل، په قضائي اجراآتو کې یې د عدالت غوښتنه وکړه، قضات یې خپلو دندو ته متوجه کړل او د اسلامي شریعت پر تطبیق یې ټینګار وکړ.

د کونړ د استیناف محکمې رئیس وویل د افغانستان ځورېدلی ملت چې همېشه یې د اسلامي شریعت د نافذولو لپاره نه سترې کېدونکې مبارزه کړې ده باید ددې مبارزې نتیجه او ثمره ووینې.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس د سترې محکمې عالي مقام له لوري د صادرو شویو متحدالمآلونو، فرامینو او هدایاتو په تړاو تفصیلي خبرې وکړې او د یاد ولایت اړوند ټولو محاکمو له مسؤلینو یې وغوښتل چې ذکر شوي هدایات په خپلو ورځنیو چارو کې تطبیق کړي تر څو ورځني اجراآت د عالي مقام د هدایاتو مطابق ترسره شي.

پر دې سربېره د استیناف محکمې رئیس د میاشتني، ربعوار او کلني راپورونو په خپل وخت ترتیب په هکله قضاتو ته لازم هدایت وکړل.

ورپسې د ښاري محکمې رئیس مولوي محمد ایوب «قلم» قضاتو او د جلسې ګډونوالو ته د قضائي اجراآتو اړوند خپلې ارزښتناکې خبرې وکړې.

دغه راز د دیوانونو رئیسانو او د ابتدائیه محاکمو رئیسانو ته نوبت ورکړل شو تر څو په خپل وار د خپلو ستونزو او مشکلاتو په اړه ناستې ته خپل وړاندیزونه شریک کړي چې د محترم رئیس صاحب له خوا یې یاداښتونه واخیستل شول او اړونده قضاتو ته یې د ستونزو د حل په موخه لارښوونې وشوې او لازم هدایات یې ورته ورکړل.

جلسه په دعائیه کلماتو پای ته ورسېده.

## د زابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس د میزانې ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه

د روان ۱۴۴۴ هـ ش کال د ربیع الثاني میاشتې په لمړۍ نېټه د زابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس شیخ نقیب الله اخندزاده او ورسره مل پلاوي د مرافعه محکمې د امنیت عامه دېوان محرر مولوي عبدالنافع فیضان او د یاد ریاست د تحریراتو آمر حکمت الله (عاصم) ملتیا کوله، د میزانې ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د میزانې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې قضائي او اداري چارې له نږدې وکتل شوې، د یادې لیدنې په نتیجه کې د نوموړې ابتدائیه محکمې کارکوونکو څخه مننه وشوه چې اداري او قضائي چارې یې ښې رواني دي.

د یادې محکمې مسؤولینو ته په ټاکلي وخت قضیو ته په رسېدنې او نه ځنډ باندې ټینګار وشوترڅو د طرفینو د شکایاتو، لګښتونو او ستړیاوو مخنیوی وشي.

په عموم کې د فیصلو د نواقصو د مخنیوي لپاره ورته داسې هدایت وشو چې کله موضوع پای ته ورسېده نو باید مفتي مسوده ترتیب کړي او دوهم ځل یې قاضي صاحب دقیق تر نظر وباسي او په درېیم قدم کې به محرر صاحب فیصله ولیکي.

پر دې سربېره محترم شیخ نقیب الله اخندزاده د صادره او وارده چارو د لابهبود په موخه هم د یادې محکمې مسؤولینو ته ځینې سپارښتنې وکړې.

د لیدنې په پای کې د مرافعه محکمې محترم رئیس د میزانې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې کارکوونکو ته هدایت وکړ چې د مراجعینو کارونه پر وخت ورخلاصوئ، په دې سره به له یوې خوا د مراجعینو د شکایاتو مخه نیول شوې وي او له بلې خوا به الله (جل جلاله) او اسلامي امارت ته مسؤول نه یاست .

## د اروزګان په استیناف محکمه کې د دغه ولایت له یو شمېر اداري مسؤولینو سره ناسته وشوه

په ١٤٤٤/٣/٢٦هـ ق نېټه د ارزګان ولایت د مرافعه محکمې رئیس الحاج شیخ مولوي سخیداد (ابوالتقي) په یاد ولایت کې د ماشومانو د ساتنې شبکې او یو شمېر نورو اداري مسؤلینو سره وکتل.

په دې غونډه د عدلیې ریاست د استازي مولوي عبدالرحیم عثماني، دکار او ټولنیزو چارو ریاست استازي شاه محمود احمدي، د سرې میاشتې ریاست استازي امان الله افضلي، د تربیې او اصلاح آمریت استازي نقیب الله حقاني، د ماشومانو د ساتنې شبکې استازي شیرالله عزیزي او د مرافعه محکمې لخوا محب الله نظري ګډون درلود.

د استیناف محکمې رئیس محترم (ابوالتقي) د یادې اداري مسؤلینو سره ناسته کې د ماشومانو دملاتړ او ساتنې د لانبه والي په خاطر یادوکسانو ته سپارښتنې وکړې وویل، باید د ماشومانو د لانبه والي لپاره ډېرې هڅې وکړو؛ ځکه ماشومان چې ښه وروزل شي راتلونکې ټولنه به هوسا وي، باید په ټولنه او مساجدو کې خلکو ته د ماشوم اړوند عامه پوهاوی ورکړل شي، چې ښوونځیو او مدارسو کې یې داخل کړي، دکوم جرم مرتکب نه شي او هغه ماشومان چې عمرونه یې له ۱۸ کالو کم وي، جرم وکړي باید د محبس پر ځای تربیه اصلاح ته وسپارل شي.

یو شمېر اداري مسؤولینو هم د مرافعه محکمې رئیس ته ډاډ ورکړ چې موږ به تر خپلې وسې په دې برخه کې همکاري کوو.

د یادو اداري مسؤولینو له جملې څخه د کار او ټولنیزو چارو ریاست استازي شاه محمود احمدي وویل، کوم ماشوم چې جرم وکړي د هر ارګان لخوا که ونیول شي باید موږ ته خبر راکړي، چې موږ ورسره د اصلاح او روزنې برخه کې همکاري وکړو.

د ماشومانو د ساتنې شبکې مسؤول شېرالله عزیزي وویل، کوم ماشوم چې جرم ترسره کړي د محبس پر ځای باید یوه مدرسه کې داخل شي، موږ په دې برخه کې پوره همکاري کوو چې ماشومان په مدرسه کې خپل درسونه ووایي او هم به په راتلونکې کې د ټولنې لپاره د خدمت مصدر وګرځي.

غونډه په دعا سره پای ته ورسېده .

## جلسۀ اداری ریاست محکمۀ مرافعه ولایت فاریاب

جلسه اداری ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب به تاریخ ۱۴۴۴/۴/۱۵هـ ق تحت ریاست محترم مولوی عبدالغنی سعید رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب و با اشتراک مولوی نعمت الله ذاکر رئیس دیوان جزاء و دیگر رؤسای دواوین استیناف به شمول محکمۀ ابتدائیه شهری آن ولایت در تالار جلسات علنی ریاست محکمه مرافعه ولایت فاریاب دائر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی از کلام الله مجید توسط مولوی عبدالکریم رئیس دیوان امنیت عامۀ مرافعه آغاز شد؛ سپس رئیس عمومی محکمۀ استیناف توصیه‌های لازم برای رؤسای دیوان‌های مرافعه و محکمۀ ابتدائیه شهری قضات و محررین محترمین ارائیه و به موارد ذیل اشاره و مورد غور و بررسی قرار گرفته شد.

- فیصله‌های تان باید قانونی و اصولی باشد، نه مکتوبی و خلاف اصول؛ تا که برای ملت رنجیده در طول زمان خدمت صحیح و به وجه کامل اداء گردد.
- هر محکمه و دیوان مستقل است؛ به شرط که جای مشکل و دچار نه باشد؛ اگر موضوع لا ینحل بود در نزد شان به همرای رئیس عمومی شان شریک بسازید، خلاصه درمشوره فواید بسیار است باید اکثر امورتان به مشوره صورت گیرد.
- برای شما ضرور است در وقت غیر رسمی متحدالمآل، اصولنامه و لایحه امارت اسلامی افغانستان را مطالعه نمائید؛ زیرا که آن اساس و رهنمود قضات است بلخصوص افراد که تازه مقرر اند اکتفاء به تقرری خویش ننمایند.
- در ظرف دوهفته جلسۀ اداری برای ما و شما ضروری است؛ زیراکه در جلسه اداری شخص که اشتراک می‌کنند مفید یا مستفید قوانین نافذه امارت اسلامی افغانستان میگردد؛ هرچند بعضی موضوغات مکرر باشد؛ مگر تکرار مستلزم به تقرر در ذهن است باید جلسه اداری از ذهن خود دور نیافت.
- کدام مکتوب که برای معلومات به یکی ازدیوان‌های محاکم مربوطه ریاست مرافعه و ابتدائیه ارسال میشود جواب مکتوب باید به دقت، سرعت، شفافیت و رعایت اصول ارائه شود؛ تا که تأخیر آن تعطیل کار نگردد.
- در روزهای پنجشنبه ازساعت اول روز طبق متحد المآل شروع کار الی حوالی ۱:۰۰ ظهر به وظیفه خویش حاضر باشید و از گشت و گذار بیجا و نا مطلوب خودداری نمائید.

جلسه بعد از استماع نظریات و پیشنهادات شاملین با دعائیه خیر خاتمه یافت.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د دعوت او ارشاد لوی رئیس په ستره محکمه کې له اړوند ریاست څخه لیدنه وکړه

د دعوت او ارشاد لوی رئیس محترم شیخ الحدیث مولوي محمدهاشم صاحب او ورسره مل پلاوي تېره ورځ (۱۴۴۴/۴/۱۹ هـ ق) نېټه سترې محکمې ته تشریف راوړ، ستره محکمه کې یې د دعوت او ارشاد ریاست د چارو تر ارزونې وروسته کارکوونکو ته اصلاحي بیان وکړ.

د دعوت او ارشاد لوی رئیس محترم شیخ الحدیث مولوي محمدهاشم صاحب د سترې محکمې کارکوونکو ته په خپل اصلاحي بیان کې وویل، اسلامي امارت مکلف دی چې هیوادوالو ته د اسلامي شریعت احکام ورسوي.

نوموړي زیاته کړه، ټول هغه فرمانونه او هدایات چې د اسلامي امارت محترم مشرتابه یې صادروي د شریعت احکام دي، دا چې موږ ټول الحمدلله مسلمانان یو نو د یادو فرمانونو تطبیق او عملي کول رابانديې لازم دي.

د دعوت او ارشاد لوی رئیس د سترې محکمې له کارکوونکو هیله څرګنده کړه چې صورت او سیرت پر سنتو برابر جوړ کړي، ځکه د سنتو په علمي کولو کې زموږ لوی خیر دی.

دغه راز محترم شیخ الحدیث مولوي محمدهاشم صاحب ټولو حاضرینو ته په خطاب وویل، اسلامي امارت زموږ او تاسو لپاره د الله تعالی په حضور کې زعیم دی، که موږ ته دین ونه رسوي او موږ ته خیر راونه ښیي الله پاک به پوښتنه ترې کوي، دا یې مسوولیت دی چې موږ ته دین راورسوي.

نوموړي زیاته کړه، موږ بیا مسؤلیت لرو چې د الله پاک دین به زده کوو او عمل به وربانديې کوو.

د دعوت او ارشاد لوی رئیس له حاضرینو غوښتنه وکړه، ټول هغه شرعي موضوعات چې د یاد ریاست په اصلاحي بیانونو کې یې زده کوئ خپلو کورونو ته هم ورسوئ، که په هره دیني موضوع چې نه پوهېږئ د یاد ریاست له مسوولینو څخه یې پوښتنه وکړئ، په دغه کار سره به مو هم دین زده کړی وي او هم به مو د الله تعالی رضا حاصله کړې وي.

یاد اصلاحي بیان د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېد.

## توحیدگزارش دوسیه‌جات حقوقی، جزائی، تجارتی و وثایق ریاست عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت میدان وردگ از تاریخ ۱۴۴۴/۴/۱ الی ۱۴۴۴/۴/۱۵




شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است.

**در بخش حقوقی:**
در جریان دو هفته به تعداد (۷۰)دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی که قبلاً چند دوسیه دیگر نیز موجود بود.
از آن جمله (۴۸) دوسیه مکتوبی (۱۶) دوسیه قرار قضائی و پیرامون(۱۷) دوسیه فیصله صادر گردیده و متباقی دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش جزایی**
در جریان دو هفته به تعداد (۱۵)دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله (۱۹ ) دوسیه مکتوبی (۶) دوسیه قرار قضائی و پیرامون (۱۰) دوسیه فیصله صادر گردیده و متباقی دیگر تحت کار می باشد .

**در بخش تجارتی**
در جریان دو هفته به تعداد (۲)دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ از آن جمله (۱) دوسیه مکتوبی اجراء گردیده و (۱) دوسیهٔ دیگر تحت کار می‌باشد .
و همچنان در این مدت به تعداد (۴۳) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان امارت اسلامی افغانستان قیمت آن اخذ نگردید.

## د لغمان د استیناف رئیس د علینګار ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه




د ۱۴۴۴ کال د ربیع الثاني میاشتې په ۱۴مه نېټه د لغمان ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس مفتي عبدالله (فرقاني) د دغه ولایت د علینګار ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې چې د لغمان ولایت د استیناف محکمې د جزاء دیوان رئیس مفتي عارف الله(عنایت) او د تحریراتو امر شفیع الله(عابد) د استیناف محکمې د رئیس ملتیا کوله د یادې محکمې له قضائي او اداري چارواو دغه راز د حاضرۍ له کتاب څخه لیدنه وکړه.

د محکمې مسؤولینو او کارکوونکو ته یې حاضرۍ ته پر پابندۍ او په چارو کې د شفافیت په اړه لازم هدایات ورکړل او زیاته ئې کړه چې د خلق الله کارونه په خپل وخت ترسره کړئ، له مراجعینو سره ښه چلند کوئ، ترڅو دا ځورېدلی ملت نور ونه ځورېږي.

ورپسې د جزاء دیوان رئیس د جزائي دوسیو په اړه لازم توضیحات ورکړل، اداري برخه کې یې د یادې محکمې د چارو د اصلاح او لا بهبود په موخه د ابتدائیه محکمې کارکوونکو ته لازمي لارښوونې وکړې.

میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۰۲۲۶۳